**دا کتاب له اصلاح انلاین څخه ډاونلوډ شوی**

**تاسې کولی شئ له همدې سایټ څخه په زرګونو اسلامي او تحلیلي مقالې، په سلګونو اسلامي ویډیوګانې او ترانې او بېلابېل کتابونه ډاونلوډ کړئ**

**ادرس: www.Eslahonline.net**





## د کتاب ځانګړنې

دکتاب نوم: دمحمد صلى الله علیه وسلم دنبوت په اړه د تورات او انجیل وړاندوینې !
لیکوال: اروابناد احمد دیدات
دري ژباړه: محمدهارون خطیبي
پښتو ژباړه: راحت ګل زیارمل
salam_qalam@yahoo.com
almadena786@gmail.com
خپروندۍ: دافغانستان دټولنیزي اصلاح اوپرمختګ ټولنه – فرهنګي څانګه
ایمیل: Library@EslahOnline.net
وېب سایټ : www.EslahOnline.Net

# لومړی فصل

## سریزه

ښاغلی ریس، ښاغلیو، اغلیو اوګرانو حاضرینو!

ستاسو لپاره دنن شپې دمناظرې موضوع (( سپیڅلی کتاب [26] دمحمد (ص) په اړه څه وایې ؟)) عجیبه او حیرانوونکی ده دا ځکه چې ویناوال یو مسلمان دی او سړی حیرانېږي چې څنګه کیدلی شي چې یو مسلمان دې دیهودو او عیسویانو له کتابونو وړاندوینې روایت او نقل کړي ؟

دېرش کاله وړاندې مې دځوانۍ په ورځو کې دهیتین په نامه د الوهیاتو له یوه پوه او پادري سره ګډې خبرې اترې لرلې.

## دکلیسا پاپ یا هنري کیسنجر ؟

نوموړي پادري دسپېڅلي کتاب وړاندوینې روایت او بیانولې، هغه ادعا لرله چې دشوروي اتحاد جوړیدل اودقیامت ورځ دسپېڅلي کتاب په وړاندینو کې راغلي دي. هغه خپلې دعوې اوږدوالې او غوښتل یې چې ثابته کړي چې سپېڅلي کتاب حتا د تیکا دپاپ په اړه هم وړاندوینې کړي دي. نوموړي دخپلې دې ادعا په اړه (( حیوان ۶۶۶)) ته چې دسپېڅلي کتاب د نوي عهد په اصحاحو کې دوروستۍ وحې په باب کې ذکر شوی ګوته نیوله او ادعایې کوله چې ګواکې دکلیسا دپاپ په اړه چې دهغه په عقیده په ځمکه کې دخدای ( ج) استازی دی نوموړې وړاندوینه نازله شوې ده. که څه هم یومسلمان ته نه ښایې چې درومن کاتولیکانو او

[26] سپېڅلي کتاب، عیسویان خپل مذهبی کتاب انجیل ته وایې.





پروتستانتو په دنني مخالفتونو کې برخه واخلي، خو په هر صورت، باید ګوته ورته ونیول شي چې د((حیوان ۶۶۶)) په اړه دمسیحیانو وروستۍ څرګندونې دادي چې له هغه نه مراد دوکتور هنري کیسنجر [27] دی. مسیحي عالمان تل دیوې ځانګړې ځیرکۍ له مخې کوښښ کوي چې خپله ادعاسمه ثابته کړي.

دښاغلی هیتین لیکچر او خبرو زه دې ته تیارکړم چې پوښتنه وکړم چې: که سپېڅلي کتاب تر دې حده دمختلفو چارو په اړه وړندوینه کوي چې حتی پاپ [28]

او اسرائیل یې هم له یاده نه دي ویستي، نو داسلام دستر پیغمبر حضرت محمد (ص) په اړه چې دبشریت ستر لارښود او ژغورونکی دی خامخا باید وړاندوینه او خبرې ولري.

ددې خبرې دځواب پیداکولو په لټه کې دیوه ځوان په حیث مې دمسیحي منابعو سره لیده کاته کول او په دې اړه مې دهغوئ په درسونو او ویناوو کې ګډون کاوه، او هر هغه څه چې په لاس راتلل ددې لپاره مې لوستل ترڅو وپوهیږم چې دمسیحیانو سپېڅلي کتاب داسلام دستر پیغمبر (ص) په اړه څه ویلي دي ؟

دنن شپې کیسه مې دیوې هالنډۍ کلیسا دیوه پادري سره دلیدلو کتلو په اړه ده چې ستاسو په حضور کې یې وړاندې کوم.

[27] هنری کیسنجر دامریکا پخوانی خارجه وزیر هغه یهودی دي چې داسلام اومسلمانانو سره په دوښمنۍ کې نوم لري.

[28] دویم پاپ جانپال

دیارلسمه شمیره نېکبخت ( خوش چانس ):

زه دترانسوال [29] سیمې ته بلل شوی وم چې دسرور کاینات حضرت محمد(ص) دمبارك میلاد په اړه وینا وکړم ښه پوهیدم چې دترانسوال اوسیدونکي په افریقایې [30] ژبه خبرې کوي تردې چې هندو توکمه خلك هم په هماغه ژبه غږیږي, ددې لپاره چې دهغوئ په منځ کې ځان پردې احساس نکړم نو ومې غوښتل چې له دې ژبې سره هم اشنایې پیدا او په ابتدایې ډول یو څه ترې زده کړم. دتیلفون لارښود کتابګوټی مې پرانېست د افریقایې ( هالنډی ) کلیساګانو دشمېرو په وهلو مې پیل وکړ. هرې کلیسا ته به مې خپله موخه له دوئ سره خبرې او بحث ښووله خوټولو به زما دوړاندیزله اوریدو وروسته ښښنه غوښتله او زماوړاندیز به یې ردکړ. زینی شمېره دیارلسمه وه چې زما له ښه بخته زما دخوښی او راحت لامل وګرځیده. پادري ( فارن هیردن ) له ماسره ژمنه وکړه چې شنبې (خالي ) په ورځ له غرمې وروسته به مې دهغه په کور کې دمناظرې لپاره ومنې. داهماغه ورځ وه چې زه پکې ترانسوال ته روانېدم هغه دخپل کور په برنډه کې زماتو دهرکلی وکړ او ویې ویل: که خوښه دې وي نو زما خسر به هم چې له (( فری سټیټ )) ایالت څخه راغلی دی په خبرو اترو کې برخه واخلي ؟ ماهم پرته له زړه نازړه توب نه ورسره ومنله او درې واړه دپادري په کتابتون کې خبرو ته کېناستلو.

---

[29] ترانسوال دجنوبي افریقا یو شمالي ایالت د ي.

[30] افریکانس ( Afrikaans ) دهالنډي سپین پوستو ژبه ده چې په جنوبي افریقا کې دتوکمیزو توپیرونو دحکومت په وخت کې دهیواد دلومړی ژبې په حیث کارول کیده.

ولې یې هېڅ نه دي ویلي !! ؟

پادري  مې وپوښت چې ستاسو سپېڅلي کتاب داسلام دستر پیغمبر محمد (ص ) په اړه څه وایي ؟ پرته له ځنډه یې ځواب راکړ (( هیڅ نه وایي )) پوښتنه مې وکړه (( ولې یې دهغه په اړه څه نه دي ویلي ؟ )) او زیاته مې کړه چې ستاسو دوینا له مخې: (( سپېڅلي کتاب دشوروي اتحاد دپاڅون, دقیامت دورځې او حتا درومن کاتولیك کلیسا د پاپ په اړه هم وړاندوینې لري ؟ )) هغه وویل: بلې, سمه ده, ولې دمحمد (ص) په اړه هیڅ نه وایې )) بیامې وپوښت (( ولې یې دهغه (ص) په اړه هېڅ هم نه دي ویلي ؟ بیشکه چې محمد(ص)  دیوه لوئ امت چې له میلیونونو مومنانو جوړ دي بنسټګر او لاربنود دي چې دغه مومنان  دلاربنوونې او تعلیماتو له لیارې په لاندې چارو ایمان لري.

١- په معجزوي ډول ( بې پلاره ) زیږیدنه.

٢- حضرت عیسی مسیح الله (ع)

٣- او دحضرت عیسی علیه السلام پر معجزو, چې مړي به یې دالله (ج) په خوښه ژوندي کول, له مورنه زېږېدلي ړانده او دبرګي (پیس ) مرض ناروغان به یې رغول.

خامخا دداسې یولوی  لاربنود په اړه چې له عیسی علیه السلام اودهغه موربی بی مریم نه په درښت سره یادونه کوي باید سپیڅلی کتاب یو څه وینا ولري.))

له فري ستېټ ښار څخه راغلي سپین ږیري میلمه له لورنې په ډکه لهجه وویل: (( ځویه ! زه له پنځو سوکالو راپه دېخوا سپېڅلي کتاب لولم.





که دمحمد په اړه یوآیت هم و, نو زه پرې پوهیدم.)) ایا یوه وړاندوینه هم په حضرت محمد(ص) پورې اړوند نده ؟ !

پوښتنه مې وکړه: (( ستاسو دوینا له مخې, ایا دعتیق (تورات) په زمانه کې په سلګونو وړاندوینې دحضرت عیسی (ع) په اړه موجودې نه وې ؟ )) پادري  په خبره کې راولوېد (( په سلګونو نه بلکه په زرګونو وړاندوینې شته دي )) ومې ویل: (( زه دسپېڅلي کتاب دیوډپاسه زرو وړاندوینو په اړه  چې دعیسی (ع) په اړوند یې کړي دي له تاسې سره مخالف نه یم, ځکه چې مسلمانان او ټوله اسلامي نړۍ  دتورات دوړاندوینو له اوریدلو او لیدلو پرته دعیسی (ع) په پیغمبرۍ  ایمان لري. پر عیسی (ع) دمسلمانانو ایمان لرل دحضرت محمد (ص) دوینا له مخې دی نن ورځ دحضرت محمد (ص) پیروان یانې له نهه سوه میلیونه ډیر مسلمانان ( دا بحث او خبري اتري په اویایمو (٧٠) میلادي کلونو کې شوې دي, دنوې احصایې له مخې دنړۍ  دمسلمانانو شمېرې نږدې دوه میلیارده تنو ته رسیږي. (( ژباړن ))  حضرت عیسی (ع) ته درناوي لري اودخدای (ج) دیوپیغمبر په حیث یې پېژني. او هغوئ دمسیحیانو دلایلو ته اړتیا نلري چې دهغوئ قناعت پرې  دمسیح (ع)  په اړه حاصل شي.

ښاغلی پادري  ! ایا دعیسی (ع) په اړه دزرګونو وړاندوینو څخه یوه وړاندوینه چې حضرت عیسی (ع) پکې په نامه یادشوی وي او په سپېڅلي کتاب کې موجوده  وي راته ویلی شئ ؟

دمسیح ( Messiah ) اصطلاح چې په (Christ) ژباړل شوې ده اسم نه بلکه لقب دي. ایا کومه وړاندوینه په ګوته کولی شې چې په ښکاره ډول پکې د حضرت مسیح (ع) نوم عیسی اود مور نوم یې پکې بي بي مریم

یادشوي وي. اودا چې دمسیحیانو په ژبه پلاریې یوسف نجار نومېده اودا چې دملك هیرود په وخت کې به دنیا ته راشي. او همدارنګه نور.......خونه یې شئ په ګوته کولی.

ځرنګه چې داډول تفصیلات په انجیل کې نشته نوبیا ځرنګه ادعا کوئ چې دانجیل ټولې وړاندوینې په عیسی (ع) پورې اړوند دي او بس؟

**اسماني وړندوینه ( Prophecy ) ؟**

نوموړي پادري ځواب راکړ: (( وګورئ !, وړاندوینه په راتلونکي کې دیوې پېښې دپېښېدنې له انځور څخه چې په کلماتو کې وړاندې شي عبارت دی. چې کله هغه پېښه رامنځته شي نو بیا موږ د هغه وړاندوینې رېښتینې انځور په ښکاره او واضح ډول وینو.)) خبره مې ورپرې کړه ومې ویل: (( اوهغه څه چې ته یې باید وکړې هغه دادي چې په انجیل کې ذکر شوې پېښه راواخلې او په خپلو دلایلو سره یې له رامنځته شوې پېښې سره ټراو ورکړ او پرې تطبیق یې کړې ؟ )) هغه وویل: (( هو, همداسې ده.)) دهغه دځواب له اوریدوسره مې وویل: (( کچیرې داسې وي چې دسپېڅلي کتاب له زرګونو وړاندوینو سره دارنګه معامله کوئ چې ترڅو ثبوت کړئ چې دا وړاندوینې ټولې په عیسی (ع) پورې اړوند دي, نو ولې دغه میتود دحضرت محمد(ص) په اړه اختیارنکړو ؟؟ )) پادري راسره ومنله چې داوړاندیز یو عادلانه اومعقول وړاندیز دی چې ستونزه پرې حل کېدی شي.



دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !

له هغه مې وغوښتل چې (( سفرتثنیه ))[31] بیرته کړي اوداتلسم باب اتلسم ایت وګوري, چې هغه همداسې وکړل, بیامې په افریقا یې هالنډي ژبه نوموړی ایت له یاده ولوست, چې یوه موخه مې تري دافریقا یې ژبې عملي تمرین و.

( زه به دهغوئ له منځ ( دبنی اسرائیلو له ورونو ) نه ستا پشان یو پیغمبر هغوئ ته ورواستوم او هغه ته به ووایم چې خلکو ته څه ووایي, هغه به خلکوته زما له اړخه ویاند ( استازی ) وي ) [32]

**دحضرت موسی (ع) پشان پیغمبر:**

ځرنګه چې ایتونه مې په افریقایې ژبه ولوستل نوله پادري نه مې دژبې له سکته ګۍ ښننه وغوښته, هغه ډاډ راکړ چې ډېر ښه مې ولوستل, بیا مې وپوښت: (( ایا ویلی شې چې دا وړاندوینې دچاپه اړه او په چاپوری اړوند دي ؟ )) شېبه وروسته یې بې له ځنډه ځواب راکړ: (( عیسی )) په حیرانتیامې وپوښتل (( ولې عیسی ؟ ! په داسې حال کې چې په دې ایت کې دهغه نوم نه دی ذکرشوی ؟)) (( هغه وویل (( ځرنګه چې وړاندوینه په الفاظو کې دراتلونکې یوې پېښې د پېښېدنې له انځور څخه عبارت ده, نوددغه تعریف له مخې دې پایلې ته رسیږو چې داکلمات دعیسی صفات بیانوي, ګوره ! ددې وړاندوینې مهم توري وڅېړه چې وایې: (( دتا پشان یوپیغمبر)) یانې دموسی پشان یو پیغمبر, نو دموسی پشان پیغمبر عیسی دی کنه. له پادري نه مې وپوښتل: (( دڅه له مخې عیسی (ع) دموسی (ع)

[31] دتثنیې سفر دمسیحیانو دکتاب بایبل پنځم فصل د ي.

[32] دتثنیې سفر:۱۸- ۲۰ ایتونه

پشان دي ؟ (( ځواب داسې وه چې: (( لومړی دا چې موسی یهود وو او عیسی اهم یهود وو, دویم دا چې موسی هم پیغمبر وو او عیسی هم پیغمبر وو. نوځکه عیسی دموسی پشان دی اوداټول هغه څه دي چې خدای تعالی یې په اړه موسی ته وړاندوینه کړې وه, چې (( دتاپشان یو پیغمبر )) ومې ویل (( ایا دعیسی اوموسی ترمنځ نور ورته والی هم شته ؟ )) ښاغلی فارن هیردن ځواب راکړ چې هغه ددوئ تر منځ نور ورته والی نه ویني, ورته ومې ویل: کچېرې دورته والي لپاره یوازې همدادوه ټکي معیار وټاکو نو دتثنیې سفر داتلسم ایت وړاندوینه پرته له دې چې دیوځانګړي نوماند په اړه یې وګڼو، په سپېڅلي کتاب کې داسې ډیر خلك یاد شوي دي چې له موسی (ع) وروسته راغلي اودغه وړاندوینه یې په اړه صدق کوي چې دهغوئ له ډلې: سلیمان, اشعیا, ازاخیل, دانیال, هوسع, جوییل, ملاچي, یحیی او نور... یادولی شو چې هم یهودان وو او هم پیغمبران نوولی دې یوازې عیسی (ع) دهغوئ له منځه ددغې وړاندوینې لپاره وټاکه؟ ولې دادوه مخې ؟ ددې دوه رنګیتوب لامل څه دی ؟)) ښاغلی فارن هېردن بې ځوابه چوپ ولاړ وو. ماخپلې خبرې لاپسې اوږدې کړې: ((فکر وکړئ او دهغه څه په مرسته چې په دې بحث کې تېرشول دې پایلې ته رسیږو چې عیسی دموسی پشان نه دی اوله هغه سره ډیر ورته والی نه لري. که تیروتی یم نو دلورني له مخې مې تیروتنې ته پام راواړه.





دحضرت عیسی (ع) او موسی (ع) ترمنځ درې لوی توپیرونه:

په داسې حال کې چې دهغه سره مې استدلال کاوه ومې ویل:

❖ (( لومړنی ټکی چې عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی, هغه دادی چې, ستاسو په عقیده عیسی خدای دی اوموسی خدای نه دی )) آیا همداسې نه ده ؟ )) هغه ځواب راکړ (( بلې, همداسې ده )) زیاته مې کړه:

(( **نو ځکه عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی** ! ))

❖ (( دویم داچې: ستا سو په عقیده عیسی دنیا دخلکو دګوناهونو په کفاره کې قربان شو, خو موسی د دنیاوالو دګوناهونو په کفارې کې نه دی مړ, ایا دا رښتیا ده ؟ )) بیا یې هم ځواب راکړ: (( ولې نه, رښتیا ده )) اوماله وخت نه په ګټې اخیستنې سره وویل: (( نوځکه خو عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی ! ))

❖ (( دریم داچې ستاسو ( مسیحیانو) په عقیده, عیسی ددرې ورځو لپاره جهنم ته لاړ, اوموسی مجبور نشو چې درې ورځې په جهنم کې تېرې کړې. ایا همداسې ده ؟ )) په ورو غږ یې وویل: (( هو )) اوما زیاته کړه: (( نوځکه, عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی ! ))

(( ښاغلی پادري ! داهغه حقایق دي چې پوره اونه ردیدونکي دي لیکن عقیدوي مسایل دي چې دکمکیانو له پوهېدنې پورته دي چې دهغوئ په راګډولو سره یې دخطااو تېروتنې امکان شته, نو اجازه راکړه چې له دې هم په ساده مسایلو اودلایلو بحث او خبرې اترې وکړو, چې که کوچنیان یې اوریدوته راوبولو نو په اسانه سره پرې وپوهیږي. څنګه اجازه راکوې ؟ ))

نوموړی ددې وړاندیز په اوریدو خوښ شو.

# دوهم فصل

## (۸) ساده اومنونکي ټکي

### موراو پلار:

(( موسی (ع) مور او پلار لرل, او محمد(ص) هم پلار اومور لرل, ولې عیسی (ع) یوازې په مور پورې منسوب دی اود انسانانو له ډلې کوم پلار نه لري. ایا رښتیا وایم ؟ )) هغه وویل: (( هو)) اوما په افریقایې ژبه وویل: (( نو ځکه عیسی دموسی پشان نه دی, ولې محمد(ص) دموسی پشان دی!))

### له پلار پرته زیږېدنې معجزه:

(( موسی (ع) او محمد(ص)دواړه په طبیعي ډول زیږېدلي دي, یعنی له مور او پلاره زیږېدلی دي خو عیسی (ع) دالهی معجزې پرمټ زیږدلی دی, په انجیل کې راغلي دي: (( دعیسی مور مریم چې دیوسف په عقد کې وه, له واده مخکې یې له هغه سره دروح القدس پواسطه یوځایوالی وشو ) [33] او انجیل ( لوقا ) بي بي مریم ته دبچي دزېږي په اړه وایې: (( مریم له پرښتې وپوښتل: (( خوځه ډول دارنګه یو کار امکان لري ؟ په داسې حال کې چې تر اوسه دهیچالاس ترما نه دی رارسیدلی ؟ )) پرښتې ورته وویل: روح القدس به پرتا نازل شي او دخدای دقدرت سیوری به پرتا پرېوزي....) [34]

[33] متی (انجنیل) ۱: ۸
۹ لوقا (انجیل) ۱ : ۳۴- ۳۵





قرانکریم دعیسی (ع) دزېږېدنې معجزه په لاښایسته او ښکاره ډول انځوروي, دمریم دمنطقي پوښتنې په اړه فرمایي: قالت رب انی یکون لی ولد ولم یمسسنی بشر قال کذلك الله یخلق مایشاء اذا قضی امراً فانما یقول له کن فیکون ه آل عمران: ۴۷

ژباړه: ( مریم ) وویل: پالونکیه ذاته: زه به په څه ډول دځوی مورشم چې لا تراوسه هیڅ بشر پرما لاس نه دی لګولی, ( پرښتې ) وویل: دابه الله تعالی (ج) داسې پیداکړي لکه څنګه چې یې هغه غواړي, کله چې هغه دیو کار پرېکړه وکړي نو چې وواېي شه, نو هغه (کار) وشي.

الله (ج) په انسانانو او حیواناتو کې دتخم کرلو ته اړ نه دی, که هغه (ج) دیوشي دپیداکېدو یوازې اراده وفرمایي نو هغه شی پرته له ځنډه منځ ته راځي, داده دعیسی (ع) دولادت نظریه د اسلام له نظره, لنډه دا چې پادري ته مې وویل: (( ایا دارښتیا ده چې په معجز ډول دپیدایښت [35] ( آسا ) په وسیله دموسی (ع) او محمد (ص) دپیدایښت برخلاف زیږېدلی دی ؟. )) پادري ځواب راکړ: ((هو, رښتیاده )) بیامې هم وویل: ((نو ځکه عیسی دموسی (ع) پشان نه دی خو محمد (ص) دموسی (ع) پشان دی. او خدای (ج) په تثنیې سفر کې موسی (ع) ته فرمایلي: (( دتاپشان یعنی دموسی (ع) پشان )) او محمد (ص) دموسی (ع) پشان دي.

[35] یوحنا (انجیل) ۱: ۱۱

## نکاح او واده:

«« موسی (ع) او محمد(ص) دواړو ودونه کړي و او د اولاد څښتنان وو، خو عیسی (ع) ټول عمر مجرد پاتې شوی دی. ایا دا خبره ریښتوني ده ؟ »» پادري ځواب راکړ: ««هو، ریښتوني ده »» اومابیا هم وویل: «« نو ځکه عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه وو خو محمد(ص) دموسی (ع) پشان دی»»

## عیسی (ع) بنی اسرئیلو ونه مانه:

««دواړه پیغمبران موسی (ع) او محمد(ص) په ژوندکې دخلکو لخوا ومنل شول او خلکو دهغوئ پیروي وکړه. څرګنده ده چې یهودانو حضرت موسی (ع) ډیر وځوراوه چې په پایله کې یې هغوئ دډېرو کلونو لپاره یوه بې سرنو شته او دربه دره زندګي ولرله خو لدې سره سره بیاهم یهودو دیوملت په حیث موسی (ع) هغوئ ته دخدای (ج) داستازي په توګه منلی و. عربو هم په خپل وخت دمحمد (ص) ددعوت مزاحمت کړی دی، هغه ته یې ازار ورکړ،تردې چې دخپل پلرني ټاټوبي پر پرېښودلوېې مجبور کړ او مدینې منورې ته یې هجرت وکړ. ولې مخکې له وفات نه په ټولیز ډول ټول عرب ملت هغه (ص) دخدای (ج) داستازي په توګه ومانه، خو سپېڅلي کتاب بیاد حضرت عیسی (ع) په اړه وایي: «« تردې چې په خپله خاوره ( وطن ) او په خپل قوم (یهودانو ) کې چا ونه مانه ) [36] تردې چې نن ورځ، یانې دعیسی (ع) له رسالته دوه زره کاله وروسته هم یهودانو هغه (ع) دخدای (ج) داستازي په توګه نه دی منلی. آیا همداسې نه ده ؟ »» ښاغلي فارن هیردن په ځواب کې وویل: «« ولې نه، همداسې ده »» نوومې ویل: ««

[36] یوحنا (انجیل) ۱ : ۱۱





نوځکه عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی، خو محمد(ص) د موسی (ع) پشان دي.

## په دنیاکې حاکمیت:

موسی (ع) او محمد (ص) دواړه هم پیغمبران وو اوهم په دنیاکې دخپل وخت حاکمان وو.

پیغمبرهغه انسان دی چې دخدای (ج) له اړخه پر هغه وحې نازلیږي اوهغه هم دخلکو د لارښوونې لپاره اړ وي چې الهی وحې پرته له زیاتوالي اوکموالي خلکوته ورسوي. او حاکم (( پاچا)) هغه څوك وي چې دچا دژوند او مرګ واك ولري، اړینه نه ده چې هغه کس دې په سرتاج ولري یا نه، اویا هغه ته دې څوك پاچا یاحاکم وواییی یا نه. که هغه کس دخلکو دستاینې او سزا واك او اختیار ولري نوپاچا اوحاکم باله شي. نو موسی (ع) دغه واك او قدرت لرلو. آیا دهغه اسرائیلی سړي کیسه دې په یاد ده چې دشنبې (سبت )

په ورځ یې خس وخاشاك راټولول او موسی (ع) هغه په سنګسار (رجم ) محکوم کړ ؟ [37] په سپېڅلي کتاب کې داسې ډیرې بېلګې شته چې حضرت موسی (ع) دقوم مجرمینو ته سزا ورکړې وي. محمد(ص) هم همدغه شان واك اوقدرت لرلو او دخلکو دژوند اومرګ پرېکړې به یې کولې. په سپېڅلي کتاب کې له داسې ډیرو پیغمبرانو نه یادونه شوې ده چې دنده یې یوازې او یوازې دالهی پیغام رسونه وه اودسزا ورکونې واك یې نه درلود .لکه: لوط(ع)، یونس (ع) دانیال

[37] دعدد سفر ۱۵ : ۳۲

(ع)، عزیر(ع) او یحیی (ع) چې هغوئ یوازې دالهی شریعت د رسونې دنده درلوده، نه دشریعت اوقانون تطبیق. له بده مرغه چې عیسی (ع) هم له دې ډلې پیغمبرانو څخه و. دمسیحیانو کتاب دا ټکی په واضح ډول بیانوي: (کله چې عیسی (ع) دروم دحاکم پونتیوس پیلاطوس مخته راوستل شو اودپاچاهۍ دعوې په تور تورن و، نوعیسی (ع) دخپل ځان نه ددفاع په خاطر وویل: ((عیسی وویل: زه دنیوي پاچا نه یم، که وم نو پیروان به مې جنګیدل اوزه به داسې نه نیول کېدلم، زماپاچاهي په دنیا پوری اړونده نه ده. )) [38] ) دغه استدلال دروم پاچا مشرك پیلاطوس قانع کړ چې ګوندې داسړی (عیسی (ع) ) لیونی شوی دی او دده پاچاهۍ ته کوم ګواښ نه دی. عیسی (ع) دأُخروي پاچاهۍ دعوه کوله یاپه بله ژبه، دپیغمبرۍ دعوه یې وکړه. ایا دا ربتیاده؟ )) پادري د سرپه ښورولو سره وویل: ((هو، ربتیاده)) اومابیا وویل: (( نوځکه عیسی (ع) دموسی (ع) په شان نه دی خو محمد (ص) دموسی (ع) پشان دی. ))

**عیسی (ع) کوم نوی شریعت رانه ووړ:**

موسی (ع) اومحمد (ص) دواړو خپلو امتونوته نوي شرایع اوقوانین راوړل. موسی (ع) نه یوازې داچې د بنی اسرائیلو لپاره یې لسګونه الهی فرمانونه راوړل،بکله دخپلو خلکو دلارښوونې لپاره یې نور جامع قوانین هم راوړل.

[38] یوحنا (انجیل) ۱۸: ۳۶





په لومړي سرکې محمد (ص) هم داسې یو قوم ته راولېږل شو چې په ناپوهۍ او وحشت کې ډوب و عربو به په هغه وخت کې خپلې میرمنې میندې نکاح کولې، خپلې لوڼې به یې ژوندۍ ښخولې، شراب څښل، زناکول، دبتانو لمنانځنه او جواري کول دهغه وخت دژوندیوه برخه ګرځېدلې وه.

ښاغلي ګیبون په (( دروم دامپراتورۍ زوال اوړنګېدل [39])) کتاب کې مخکې له اسلام څخه مخکې عرب داسې راپېژني: (( بې احساسه او وینې بهوونکي انسانان، چې په ډېر ستونځمن ډول به دهغوئ او ددونیا دنورو حیواناتو توپیر کېده.)) ربتیا هم داسې څه شیز نه و چې دهغه وخت دانسان او حیوان توپیر پرې شوی وی، یاپه بله ژبه، دانسانانو په جامه کې حیوانات وو.

محمد (ص) انسانان د تباهۍ او وحشت له کندې راوویستل او ویې ژغورل او دښاغلي توماس کارلیسلي دوینا له مخې چې په خپل کتاب (( دپوهې اوړنا لارویانوته )) کې لیکي: (( دعربي ملت لپاره دا له سره نوې زیږېدنه وه چې هغوئ یې تورتم نه رڼاته راوویستل، عرب قوم ددغه خوځښت په مټ یو نوی روح ترلاسه کړ او بیرته له سره ژوندی شو. شپانه اوساراییي عربان چې دنړۍ له پیدایښته یې راپه دېخوا په دښتو کې بې نومه او بې نښانه ژوند درلود، یو دم دنړیوال شهرت څښتنان شول، او هغه کوچنی ملت دنړیوال شان وشوکت نه برخمن شو. دیوې پیړۍ په موده کې دعربو واکمني په لویدیځ کې

[39] Decline and Fall of the Roman Empire

تر « گرانادا » [40] او په ختيځ کې دهندوستان تر ډيلي ورسېده چې د حق په رڼولو (روښانولو) کې دعربو نور دنړۍ يوه زياته برخه وځلوله......... » ريښتوني ده چې حضرت محمد (ص) خپلو خلکوته يو داسې قانون اوشريعت راوړ چې، مخکې له دې يې بېخي ليدلی نه وو.

ولې ترکومه ځايه چې په عيسی (ع) پورې تړلې ده هغه دا چې کله يهودو پرهغه اودهغه پر پيغمبری شك درلود چې دی به دروغجن وي او دخپل نوي شريعت اوقانون له مخې غواړي چې د يهودو تعليمات ترپښولاندې کړي نو عيسی (ع) کوښښ وکړ چې هغوئ ويوهوي چې ده هيڅکله هم نوی شريعت له ځانه سره نه دی راوړی، دهغه له خپلې ژبې يې رانقلوو.

( گومان مه کوئ چې زه راغلی يم چې، دموسی (ع) اودنورو انبياړ صحيفې منسوخ کړم، زه ددې لپاره راغلی يم چې هغه پوره کړم اوسرته يې ورسوم، رښتيا! تاسو خبروم چې دتورات هغه احکام چې بايد عملي شي، يقيناً چې يو په يو به عملي شي....) [41] په بل عبارت، هغه هيڅ نوی قانون او احکام رانه وړل، هغه راغلی و چې دتورات احکام اوقوانين عملي کړي، دادهغه پيغام و چې غوښتل يې يهودانو ته يې ورسوي.

ايا هغه غوښتل چې يهودان وغولوي چې دهغه هره خبره يهودان ومني، اوپه چل اودوکه د خپل نوی دين بنسټ کېدي اوپه هغوئ يې

[40] دغرناطې ښار چې داسپانيې په شمال کې پروت دي.

[41] (متی) انجيل ۵: ۱۷-۱۸



دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !

ومني ؟ هيڅکله نه: دخدای (ج) استازی هيڅ وخت هم داسې کومې حيلې ته غاړه نه ږدي، چې له دغې لياري دالله (ج) دين په خطر کې واچوي. عيسی په خپله دتورات قوانين عملي کړل، دموسی (ع) لسگونه فرمانونه يې عملي کړل، دشنبې ورځ ته يې داحترام په سترگه کتل. هېڅکله کوم يهودي پر هغه کومه گوتنيونه ونه کړه چې: « ولې روژه نه نيسې ؟ » يا « ولې له ډوډۍ ماتولو وړاندې لاسونه نه مينځې ؟ » په داسې حال کې چې دا ډول نيوکې يې تل دهغه په شاگردانو کولې، ولې هيڅ وخت يې پرعيسی (ع) دا تور ونه لگاوه ځکه چې هغه ديو ښه يهودي په حيث تورات اودنورو پخوانيو پيغمبرانو کتابونو ته درنښت درلود.

لنډه دا چې عيسی (ع) نه کوم نوی دين تاسيس کړ اونه يې دموسی (ع) او محمد (ص) پشان کوم نوی شريعت راوړ.

ايا دا رښتيا ده ښاغليه ؟ ! زماد پوښتنې په ځواب کې هغه بيا وويل: « هو، رښتيا وايې » او ماهم په خپل وار هماغه پخوانۍ خبره يو وار بيا تکرار کړه: « نوځکه عيسی (ع) دموسی (ع) پشان نه وو، خو محمد (ص) دموسی (ع) پشان دي. »

## ددريو واړو پيغمبرانو دمړينو پرتلنه:

« موسی (ع) اومحمد (ص) دواړه په طبيعي ډول له دې فاني نړۍ کډه شول او رحلت يې وکړ خو دمسيحيانو دعقيدې له مخې اودهغوئ په وينا ( عيسی (ع) پرصليب ځوړند په مظلومانه ډول ساه ورکړه. ) پوښتنه مې وکره آيا دروغ خوبه نه وايم ؟ » پادري فان هيردن ځواب راکړ: « بېخي رښتيا دې وويل.» او مازياته کړه: «

نوځکه عیسی (ع) دموسی(ع) پشان نه دی خومحمد(ص) دموسی (ع) پشان دی. ))

### د هغوئ په وینا عیسی (ع) په اسمانونو کې ویده دی:

(( موسی او محمد (علیهماالصلوۀ والسلام ) دواړه له وفات وروسته په ځمکه کې دفن کړی شول ولې ستاسو عیسویانو په وینا, عیسی (ع) په اسمان کې استراحت کوي.)) رښتیا وایم ؟ ! )) پادري موافق وو, نو ومې ویل: (( نوځکه عیسی (ع) دموسی (ع) په شان نه دي خو محمد (ص) دموسی (ع) پشان دي. ))



دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !

## دریم فصل

## څو نور دلایل

### اسماعیل دحضرت ابراهیم (ع) لومړني زوئ:

څرنګه چې پادري په عاجزانه اومات ډول دمناقشې له هرڅکي سره سرښوراوه او راسره یې منله نو ماهم ورته وویل: (( ښاغلی پادري ! تراوسه خومې دتثنیې سفر د وړاندوینې یوڅکي (( Like unto thee )) یانې (( ستاپشان ( دموسی (ع) پشان ) )) ایله واضح کړ او په ثبوت مې ورساوه خو نومورې وړاندوینه له ځان سره نور څه هم لري لکه (( دهغوئ [بني اسرائیلو ورونو ] له منځه به ستا پشان پیغمبران ورولېږم......))

زموږ دبحث وړ جمله: (( دبنی اسرائیلوورونو له منځه )) ده.

موسی (ع) او قوم یې ( یهودان ), په دې ځای کې دیو ځانګړي توکم (نژاد) په ډول مخاطب دي, اوپرته له شك نه چې دهغوئ ورونه عربان دي.

وګوره, خدای (ج) په سپېڅلي کتاب کې ابراهیم (ع) ته (( دخدای دوست )) ویلی دی. ابراهیم (ع) دوه مېرمنې دبي بي ساره او بي بي هاجره په نامه لرلې,بی بی هاجرې له ابراهیم (ع) نه زوی وزېږاوه. (( هاجرې د ابراهیم (ع) لپاره زوی وزېږاوه او ابراهیم (ع) هغه اسماعیل ونوماوه او ابراهیم (ع) خپل زوی اسماعیل واخست, بیا ابراهیم (ع) خوی یې اسماعیل اونور نارینه او ځامن یې چې په کورکې وو دخدای

دفرمان له مخې سنت ( ختنه ) کړل. )) [42] تر دیارلس کلنۍ پورې اسماعیل (ع) دابراهیم (ع) یوائینی زوئ اوتکیه وه, کله چې د ابراهیم (ع) او الله (ع) ترمنځ ژمنه ترسره شوه. نو، الله (ج) له بي بي سارې نه ابراهیم (ع) ته یوبل ځوی هم ورکړ چې, اسحاق ونومول شو چې, له خپل ورور اسماعیل نه ډېر کوچنی و.

**د عربانو او یهودانو ترمنځ نږدیوالی:**

که اسماعیل او اسحاق دابراهیم (ع) دوه زامن وي نو دوئ یودبل ورونه هم دي, همدارنګه دیوه اولاده دبل داولادې ورونه دي. داسحاق اولاده یهود اود اسماعیل اولاده عرب دي. نوځکه هغوئ یود بل ورونه دي. سپېڅلي کتاب دامطلب داسې بیانوي: (( ستاځوی به شوخ وي اودخپلو ورونو سره به جوړښت نه کوي )) [43] څرنګه چې محمد(ص) داسماعیل (ع) له اولادې دی نوځکه داسماعیل بن ابراهیم له ځوځاتو شمېرل کیږي اودا په پوره ډول هماغه ټکی واضح کوي کوم چې په نومورې وړاندوینه کې په دې ډول ذکر شوي دی ((.......دهغوئ دورونو له منځه......)) [44] په دې وړاندوینه کې په ښکاره ډول ذکر شوې ده چې نومورې پیغمبر به چې دموسی (ع) پشان وي دبني اسرائیلو له منځه به نه وي بلکه دهغوئ (بنی اسرائیلو ) دورونو له منځه به په پیغمبرۍ مبعوث شي, او محمد(ص) هم دبنی اسرائیلو

[42] دپیدایښت سفر ۱۷: ۱۲
[43] دپیدایښت سفر ۲۵: ۱۸
[44] دتثنیې سفر ۱۸:۱۸



دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !

دورونو له منځه یانې داسماعیل (ع) داولادې له منځه پیغمبرشوی دی.

**په خوله کې یې خبره ور کیښودل:**

وړاندوینه زیاتوي چې: (( هغه ته به ووایو چې خلکو ته څه ووایي. )) راځئ چې فکر وکړو چې له پورتنۍ جملې چې وایي: (( هغه ته به ووایو چې خلکوته څه ووایي )) یا (( هغه ته به په خوله کې خبره کېږدو )) مراد څه شی دی ؟

ښاغلی پادري ! وګورئ ! که زه تاسې ته ووایم چې دتثنیې سفر د ۱۸ باب ۱۸ ایت وګوره او ویې لوله, که تاسې یې په لوستلو پیل وکړئ نو ایامابه خپله کومه خبره ستا په خوله کې ایښې وي ؟ پادري ځواب راکړ: ((نه )) او بیامې وویل (( او که تاسې ته یوه داسې ژبه چې بېخي پرې نه پوهیږئ لکه عربی ژبه, در زده کړم او بیا له تاسې غوښتنه وکړم چې ویې وایه یا هغه چې در زده کوم یې تکرار یې کړه,لکه: (( اعوذ باالله من الشیطن الرجیم o بسم الله الرحمن الرحیم o قل هوالله احد. الله الصمد. لم یلد ولم یولد. ولم یکن له کفواً احد. )) [45]

(( ژباړه: پناه غواړم په الله سره له شیطان رټل شوي نه. شروع کوم دالله (ج) په نامه چې ډېر مهربان اوبښونکی دی. ووایه [ای محمده چې ] الله (ج) یو دی, الله (ج) چاته اړتیانلري, نه له ده څوك زېږېدلي دی او نه دي له چا پیداشوی دی, اونه له ده سره په صفاتو اوکارونو

[45] قرانکریم,سورۍ اخلاص.

کې څوك سيال اوشريك شته ›› دغه رنګه کلمات چې تاسې مخکې بېخي اورېدلي نه وي او زه يې تاسو ويلو ته رابولم نو ايا دا کلمات به مې ستا په خوله کې نه وي درکړي ؟ ›› پادري ومنله او ويې ويل: ‹‹ همدغسې ده څرنګه چې تاسې ووېل ›› نولکه دمخکې په ډول مې ورته ووېل: ‹‹ همدارنګه کلمات اودقران کريم ايتونه هم پر حضرت محمد(ص) دالله (ج) لخوا دوحې په ډول راغلي دي.››

تاريخ موږته وايي محمد(ص) څلوېښت کلن و چې له مکې درې ميله لرې دحرا په غارکې په عبادت بوخت و. چې, درمضان مياشتې پر اوه ويشتمه شپه دجبرائيل (ع) په نامه پرېښته ورغله او هغه (ص) ته يې په مورنۍ ژبه امر وکړچې ‹‹ اقراء ›› يعنی ولوله ! يا تلاوت کړه, محمد(ص) ددې حالت په ليدلو دوېرې او حيرانتيا په حالت کې ووېل: ‹‹ ماانابقارئ ›› يانې لوستونکی نه يم.: پرېښته دويم وار امرکوي خودعېن ځواب سره مخ کېږي او دريېم وار امرکوي اوزياتوي: ‹‹ اقراء باسم ربك الذی خَلَقَ › [46] ژباړه: ولوله دخپل پالونکي په نامه چې ‹‹ ټوله نړۍ ›› يې پيداکړې. په دې ځای کې محمد(ص) درك کوي چې له هغه غوښتل شوي دي چې تکرار کړي او اوريدلي څه دويم ځلي واوروي.

اقراء باسم ربك الذی خَلَقَ. خَلق الانسان من علق. اقراء وربك الاکرم. الذی علم باالقلم. علم الانسان مالم يعلم. العلق ۱- ۵ ايتونه.

‹‹ ژباړه: ( ووايه ای محمده هغه څه چې پرتا وحې کيږي ): ووايه دهغه پروردګار په نامه دې چې ‹‹ ټوله نړۍ ›› يې پيداکړې ده, انسان

[46] دعلق سورت لومړني ايت.





يې د وينې له غوټې ( چې له رحم سره معلقه ده ) پيداکړی, ووايه اوستا پالونکی ډېر ښښونکی او لوی دی ‹‹ له هغه څه چې ته يې فکر کوې ›› هماغه ذات چې دقلم پوسيله يې ( انسان ته زده کړه ورکړه اوشيان يې هغه ته ) ورزده کړل, اوپه هغو شيانو يې پوه کړ چې نه پرې پوهېده .

دالومړني ايتونه دي چې داسلام پرستر پيغمبر محمد(ص) دحراپه غارکې نازل شوي دي. چې , دقرانکريم دشپږنوي يم سورت ( العلق ) لومړني پنځه ايتونه دي.

## د خديجې الکبری (رض) ګواهي:

ډېر ژر جبرائيل (ع) له هغه ځايه ولاړ او محمد(ص) هم دکور په لور رهي شو. په داسې حال کې چې وجود يې ټول خوله خوله اولوند خېشت و او دوېرې اثار يې په مخ کې له ورايه ښکارېدل له خپلې وفادارې مېرمنې خديجې (رض) يې وغوښتل چې دی په بستره کې وپېچي اوپه خپله هم دارام لپاره وغځېد. خديجې الکبری (رض) دحضرت محمد(ص) حالت له نږدې څاره چې له څه ساعت ارام وروسته نبی کريم (ص) خپلې مېرمنې ته هغه څه چې ده ليدلي او اوريدلی وو ټکي په ټکي بيان کړل. بی بی خديجې (رض) هغه ته اطمنان ورکړ چې هغه په ده باور لري. او خدای (ج) به ونه غواړي چې هغه ته بدي ورسيږي.

آيادا ديو دروغجن پيغمبر اعتراف دی ؟ آيا دروغجن پيغمبر به اعتراف وکړي چې کله پرېښتې پرهغه وحې راوړله نو هغه وېرېدلې و او له سره تر پښو پورې په خولو کې ډوب خپل کور اواهل ته ځان

رسولی و ؟ که په نیاو ( عدل ) ولاړ قضاوت وشي, نوددې جزا (بدله ) به دانه وي چې د محمد (ص) دغه کار او اعتراف, دهغه په رښتینولی, , اخلاص او امانتداری, دلالت کوي نه په نورڅه ؟..... تاریخ ګواه دی چې دنبوت په ټول درویشت کلن عمر کې حضرت محمد (ص) ته په خوله کې خبره ورکول کیده ( پرهغه وحې راغلې ده ) او هغه یادشوي کلمات ( وحې ) په امانتداری, سره نوروته رسولي دي. دوحې کلماتو به دهغه په زړه او روح اثر کاوه, او په زړه کې به یې ځای نیوه, کله چې دوحې نزول زیات شونو مسلمنانو هغه دخرما پرپاڼو, پوستکي, دحیواناتو داوړې (ولې ) په همغه پلن هډوکي اوپه همدې وخت کې دمحمد (ص) پاکو یارانو په خپلو سینو مبارکو کې حفظ او ثبت کړل, مخکې له وفات نه رسول الله (ص) هغه په توقیفې ترتیب ( اوسنې ترتیب ) سره راټول کړل.

اصلاً دغه کلمات (وحې ), هماغه دتورات دوړاندوینې له مخې چې وایي (( او موږ [خدای ] خپله خبره دهغه په خوله کې ږدو )) [47] نبی کریم (ص) ته په خوله کې کېښودل کېدې.

[47] دتثنيې سفر ۱۸باب ۱۸ ایت



دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !

**نالوستی پیغمبر (امی ):**

داسلام دستر پیغمبر (ص) تجربه دجبل النور [48] په حرا غار کې اولومړنی عمل دهغه له لومړنی, وحې سره په حقیقت کې دسپېڅلي کتاب یوه بله وړاندوینه عملي کوي. په اشعیاء سفر کې, **۲۹** اصحاح **۱۲** نمبر ایت کې دراتلونکې پیغمبر په اړه دارنګه وړاندوینه شوې ده:

(( او پرهغه به کتاب ( الکتاب, القران, قرائت اوتلاوت ) نازل شي هغه به په پوره توګه نالوستی (امی ) وي, پداسې حال کې چې ورته ووایې: ووایه ! اوزه دعاکوم او هغه (پیغمبر ) به وایي: زه نالوستی یم )) [49]

قرانکریم دپیغمبر (ص) په اړه فرمایي: الذین یتبعون الرسول النبی الامی.... الاعراف – **۱۵۷** ایت

ژباړه: هغه کسان چې متابعت کوي دالله (ج) دداسې استازي او نبی چې هغه امی (نالوستی )....

ایاد (( زه نالوستی یم )) جمله د (( ماانابقارئ )) دقیقه ژباړه نه ده؟ هماغه کلمات چې محمد (ص ) دجبرائیل په ځواب کې د وحې په لومړني وارکې ویلي وو.

اجازه راکړه چې ایت یوځل بیا په هماغه شکل چې کنګ جیمز ژباړلی دی تکرار کړم:

(( کتاب هغه چا ته لېږل شوی دی څوك چې نالوستی دی, پرښته هغه ته وایي (( دا ووایه ! او زه دعاکوم )) هغه ورته په ځواب کې وایي

[48] هماغه کوه نور دی چې وروسته په دې نامه ونومول شو.

[49] د (( زه دعاکوم ))جمله په عبراني نسخه کې نشته خود رومن کاتولیك او همدارنګه تجدید نظر شوې ستندرد ژباړه ته دې مراجعه وشي.

چې زه لوستونکی نه یم )) [25] باید یادونه وشي چې په شپږمه میلادي پیړۍ کې هغه مهال چې نبی کریم (ص)ددعوت کار کاوه دسپېڅلي کتاب هېڅ قسم عربي ژباړه نه وه موجوده اوعلاوه له دې انحضرت (ص) امی اونالوستی و, اوهېڅ انسان نه یې سواد زده کړه نه ده کړې بلکه دهغه ښوونکی دهغه پروردګار (ج) و. قرانکریم فرمایي: والنجم اذا هوی. ماضل صاحبکم وماغوی. وماینطق عنِ الهوی. د النجم سورت - ۱-۳ ایتونه

ژباړه: اوهغه دهوا او هوس له مخې خبرې نه کوي هغه څه ( چې له ځان سره یې راوړي دي ستاسو ترمنځ یې ایښې دي ) دخدای (ج) دوحې اوپیغام یوه برخه ده چې ( دجبرائیل پوسیله ) یې هغه ته ورزده کړې او دی یې له مخې خبرې کوي.

**ستره ګواښنه ( اخطار ):**

دکلیسا پادري ته مې وویل: (( ښاغلیه ! دوړاندوینې لکه دلباس غوندې دمحمد (ص) پرتن جوړې راغې, ټکی په ټکی پرهغه (ص) صدق کوي او هېڅ تکلف ددغو وړاندوینو په تطبیق کې نشته.

پادري ځواب راکړ: (( ستاسې دلایل منطقي دي, خو هېڅ ګټه ترې نه شې اخیستلی, ځکه موږ مسیحیان د حضرت عیسی (ع) ټینګ ملاتړ او حمایت لرو, چې خدای په هغه کې دی, چا چې مونږه دګوناهونو له بنده راخلاص کړي یو او زموږ د ګوناهونو کفاره ګرځیدلی دی !. ))

[25] داشعیاء سفر ۲۹: ۱۲





ومې ویل: (( ایا دامهمه نه ده ؟ )) خدای (ج) داسې فکر نه دی کړی ! هغه په ډېرې سختۍ سره دخپل کلام ساتنه کړې, خدای (ج) پوهېده چې ستاسو په شان انسانان به دهغه په کلام پورې ملنډې ووهي. نو ځکه دتثنیې سفر اتلسم باب اتلسم ایت وړاندې ځي او ګواښنه کوي: ((... دا به واقع کېږي, هغه به زما په نامه خبرې کوي (پیلوي ), او چې هرڅوك زما کلام ته غوږ کېنږدي نو هغه ته به سزا ورکړم.)) هغه څوك چې هغه [ استازي ] ته غوږ کېنږدي او دهغه پیغام ته چې زما له اړخه دی پاملرنه ونه کړي نو سزا به ورکړم ) [26]

دسپېڅلي کتاب په کاتولیکي نسخه کې وروستي تورې داسې راغلي: (( زه به له هغه کسات (انتقام ) واخلم )) کسات اخیستونکی پخپله خدای تعالی (ج) دی ! ایا دا ګواښ تا په وېره کې نه اچوي ؟ الله تعالی (ج) دې دکسات په الفاظو تهدیدوي !

که یو ظالم او بدمعاش انسان مونږه تهدید کړي نو له وېرې او ډاربه لړزېږو خو ته له خدای (ج) او دهغه له ګواښ نه ولې نه وېرېږې؟!

یوه بله لویه معجزه چې دمحمد(ص ) په اړه صدق کوي, په پورتنۍ وړاندوینه کې د (( هغه (پیغمبر) به زما په نامه خبرې پیلوي. )) توری دی. محمد (ص) دچا په نامه خبرې پیلوي ؟؟ په دې وخت کې مې دقرآنکریم دانګریزۍ ژباړې نسخه چې ښاغلي یوسف علی ژباړلې وه راواخیسته, هغه مې پرانیستله او د ۱۱۴ شمېرې سورت (الناس) په پیل کې مې د بسم الله الرحمن الرحیم الفاظ وروښودل. [ شروع کوم دالله په نامه چې ببښونکی او مهربانه دي ] او بیامې الفلق

[26] دتثنیې سفر ۱۸: ۱۹

(۱۱۳سورت ) په پیل کې د بسم الله الرحمن الرحیم توري وروښودل او په همدې ډول مې د۱۱۲، ۱۱۱و ۱۰۸,۱۰۹,۱۱۰او... سورتونه ورښکاره کړل چې ټول پر بسم الله پیل شوي و. دقرانکریم وروستي سورتونه مې ځکه وټاکل چې دغه سورتونه لنډ او په مخ کې ځو ځو سورتونه ځای کېدای شي چې دهر سورت په سرکې بسم الله په اسانۍ سره لیدل کېږي.

دسپېڅلي کتاب وړاندوینه څه وایې ؟ ((... هغه (پیغمبر) به زما (الله ) په نامه خبرې پیلوي )) محمد(ص) د چا په نامه خبرې پیل کوي ؟ [ شروع کوم دالله په نامه چې ښښونکی او مهربانه دی ] وړاندوینه ټکي په ټکي عملي شوې ده!

دقرآنکریم ټول سورتونه پرته له (سورۍ التوبه ) نه په دې جمله پیل شوي دي چې: (( بسم الله الرحمن الرحیم )) مسلمانان پرته له دې هم خپل ورځني ټول کارونه دخدای (الله ج) په نامه پیلوي. ولې, مسیحیان خپل هرکار د پلار خدای, زوی خدای اوروح القدس په نامه پیلوي.

دتثنیې سفر داتلسم باب, اتلسم ایت په اړه مې پنځلس قوي دلایل ( چې وړاندوینه دمحمدصلی الله علیه وسلم په اړه صدق کوي نه دعیسی علیه السلام په اړه ), درته وړاندې کړل, نودغه وړاندوینه دمحمد(ص) په اړه ده.





# څلورم فصل

## دعیسی (ع) اویحیی (ع) په خبرو کې تعارض (توپیر)

موږ دنوې ژمنې ( دعیسی (ع) درسالت ) دزمانې په مطالعه کولو سره پیداکوو چې بنی اسرائیل (یهود) لاتر دغه وخته دتورات دوړاندوینې له مخې (( دموسی (ع) پشان دیوپیغمبر )) په تمه وو, دیوحنا انجیل لومړي باب نولسم ایت نه تر پنځه ویشتم ایت پورې دې وکتل شي. هغه وخت چې عیسی (ع) دمسیحیت (مسیح والي ) دعوه وکړه نو له یهودو سره داپوښتنه راپیداشوه چې که دی مسیح وي نوالیاس چېرته دی ؟ یهودو یوه موازي وړاندوینه درلوده, داسې چې, مخکې دمسیح (ع) دښکاره کېدنې نه به الیاس (ع) ددویم ځل لپاره راځي.

عیسی (ع) یهودوته داعقیده داسې څرګنده کړه: [... عیسی ځواب ورکړ: (( حق له هغوئ سره دی الیاس باید راشي او کارونه وړاندې بوزي. په حقیقت کې هغه راغلی, ولې هغه چاونه پېژانده او له هغه سره یې بد چلند وکړ, تر ماپورې هم چې مسیح لا هم یم. دهغوئ له لاسه به خامخا ازار وینو. )) هغه وخت یې شاګردان پوه شول عیسی (ع) دتعمید[۲۷] ورکوونکی یحیی (ع) په اړه غږېږي. ][۲۸]

دنوې ژمنې ( دعیسی (ع) درسالت ) دروایت له مخې یهود داسې قوم نه و چې دیو چا د مسیحیت ددعوې په اړه چوپتیا اختیار کړې وای,

[۲۷] تعمیدورکونه هغه غسل ته وایې چې دیو بل مذهب لاروي ته دعیسویت ته د اوښتلو په وخت کې ورکول کېږي. ژباړن

[۲۸] متی انجیل ۱۷: ۱۱-۱۳

ددې لپاره چې معلومه کړي چې مسیح څوك دی هغوئ له ډېرو ستونزو سره مخ شول. یوحنا انجیل په دې اړه وايي: [ یوه ورځ دیوروشلیم دښار یهودي مشرانو څو تنه ساحران ( کوډګر ) یحیی (ع) ته ورولېږل چې دوئ پوه شي چې ریښتیا هم هغه دعوه کوي چې مسیح دی که نه ؟ یحیی په ښکاره او واضح ډول وویل: (( نه, زه مسیح نه یم)) [29] [30]

بیایې وپوښتل: (( ښه, نوبیا تاسو څوك یاست ؟ ایا حضرت الیاس پیغمبر یې ؟ )) ځواب یې ورکړ (( نه ! )) ] [31]

( په دې ځای کې دیحیی (ع) خبره دعیسی (ع) دخبرې سره په تعارض (ضد) کې واقع کېږي ! عیسی وايي چې یحیی هماغه الیاس (ع) دی خو یحیی دهغه خبره نفي کوي (ردوي ). دیوحنا انجیل دوینا له مخې بیا نو یو له دواړو پیغمبرانو علیهماالسلام نه (نعوذباالله ) ربنتیانه وایي ! دعیسی (ع) دګواهۍ له مخې یحیی (ع) د بنی اسرائیلو دلویو پیغمبرانو له ډلې یو پیغمبر دی: (( تاسوته په یقیني ډول وایم چې تراوسه یوې مور هم دیحیی پشان دلوړ بزرګ شخصیت لرونکی ماشوم نه دی زېږولی )) [32]

موږ مسلمانان پریحیی (ع) دالله (ج) دربښتیني پیغمبر په توګه ایمان لرو او همدا ډول عیسی (ع) هم د الله (ج) یو ربنتیني او اولوالعزم پیغمبر ګڼو, هېڅکله مسلمانان له دغو دواړو پیغمبرانو نه یوه ته هم د دروغو

[29] یوحنا انجیل ۱: ۱۹

[30] دیحیی (ع) دغه اعتراف او اقرار طبیعي دی, ځکه په یوو خت کې دوه تنه مسیح کېدی نشي, نوکه عیسی مسیح وي یحیی نشي کولی چې مسیح شي.

[31] یوحنا انجیل ۱: ۲۰

[32] متی انجیل ۱۱:۱۱





نسبت نه کوي. دپورتني تور سپیناوی پرمسیحیانو وراچوو چې خپله هغوئ دامسئله حل کړي, ځکه چې دهغوئ سپېڅلي کتابونه د دارنګه ډېرو نیمګړتیاوو اومخالفتونو لرونکي دي. چې تل په هغو کې د (( عیسی تورې خبرې )) په ډول څرګندېږي. [33]

مونږ مسلمانان واقعاً دیوې پوښتنې سره چې له یحیی (ع) نه شوې وه ډېره دلچسپي لرو. هغه داچې ترې وپوښتل شول: (( ایاته هغه پیغمبر نه یې ( چې موږ ورته سترګې په لاریو.)) خویحیی (ع) بیاهم ځواب ورکړ چې: ((نه ! )) [34]

درې پوښتنې له ( تعمیدورکونکي ) یحیی نه !

که په یاد لرئ نودرې پوښتنې له یحیی (ع) نه شوې وې چې هغه دهرې یوې په مقابل کې منفي ځواب ورکړی دی. ددویم ځل لپاره بیا هغه پوښتنې ذکر کوو:

**۱- ایا تاسې مسیح یاست ؟**

**۲- ایاتاسې الیاس پیغمبر یاست ؟**

۳- ایاتاسې هغه پیغمبر یاست ( چې موږ ورته سترګې په لاریو ) ؟

[33] مهرباني وکړئ اوهغو مقالوته چې یوه یې دامریکا په ټایمز مجله ( ډیسمبر ۱۹۷۴ کال چاپ ) کې د (( ایا سپېڅلی کتاب حقیقت لری )) ترسرلیك لاندې اوبله یې دیهودو د ګواهانو خپرنیزارګان ( ویښتیا (( Awake! )) مجلې په اتمه ګڼه ( سپتمبر ۱۹۵۷ کال چاپ ) کې د (( په سپېڅلي کتاب کې پنځوس زره تېروتنې ؟ )) ترسرلیك لاندې خپرې شوې دي مراجعه وکړئ. دغه مقالې داسلامي تبلیغاتو له نړیوال مرکز نه ترلاسه کولی شئ.

[34] یوحنا انجیل ۱:۲۱

خو څوك چې له مسيحيت سره اشناوي نو هغه ګوري چې دلته دوه پوښتنې سره تړاو لري، دنور وضاحت ( څرګندتيا ) لپاره راځئ وګورو چې يهودو دمسيح دظهور په وخت کې دهغه دحقانيت دمعلومولو لپاره درې جلاجلا او سره بېلې پوښتنې په ذهن کې لرلې، چې له يحيی يې وپوښتلې. ديهودو استدلال به په دې نورو ايتونو کې وګورو: [ نو کله چې دفريسيانو له ډلې څه کسان راغلل له هغه يې وپوښتل: (( ښه، چې تاسې نه مسيح ياست، نه الياس پيغمبر ياست اونه هغه پيغمبر ( چې موږ ورته سترګې په لاريو ) نوبيا څه حق لرئ چې خلکوته دتعميد غسل ورکړئ ؟ )) ] [۳۵]

يهودان دهغو دريو وړاندوينو رښتينولی ته په تمه وو: لومړی دمسيح ښکاره کېدنې، دويم دالياس راتګ او درېيم هغه پيغمبر ته ( چې دوئ ورته په تمه وو ).

(( **هغه پيغمبر** !! ))

که ديو حاشيه لرونکي سپېڅلي کتاب پاڼې واړوو نو دهغه پيغمبر په اړه به يې په حاشيه کې وګورو چې هغه پيغمبر د تثنيې سفر د۱۸ باب پنځلسم اواتلسم ايتونو دوړاندوينې له مخې هماغه ( دموسی (ع) پشان پيغمبر ) يا ( ستاپشان پيغمبر ) دی.

او موږ مخکې پرډېرو دلايلو سره ثبوت کړه چې محمد (ص) دموسی (ع) پشان دی، نه عيسی (ع) !

[۳۵] يوحنا انجيل ۱: **۲۵**





مسلمانان دانه ردوي چې مسيح په چې (( Christ )) ژباړل شوی، عيسی (ع) دی، او همدارنګه موږ له يو دپاسه زرو هغو وړاندوينو مخالف نه يو چې دمسيح دظهور (ښکاره کېدنې ) په اړه په سپېڅلي کتاب کې راغلي دي ليکن وايو چې هغه وړاندينې چې دتثنيې سفر په اتلسم باب اتلسم ايت کې راغلي دي دعيسی (ع) په اړه صدق نه کوي بلکه دمحمدصلی الله عليه وسلم په اړه صدق کوي:

پادري فارن هيردنی چې کله له ماجلا کېده نو په ډېر ادب او احترام يې وويل چې خبرې ډېرې په زړه پورې وې او هغه غواړې چې يوه ورځ دهغه دکليسا له نورو غړو سره هم کېنم او خبرې وکړم.

يوه نيمه لسيزه تېره شوه خوزه اوس هم په تمه يم چې هغه زرينه موکه په لاس راشي.

زما په ګومان پادري په خپله خبره کې صادق و، خو تعصب په اسانی سره له منځه نه ځي او هېڅوك نه غواړي چې په اسانی سره خپل پيروان له لاسه ورکړي.

**د پيغمبری دثبوت لپاره معيار او محك:**

دعيسويت علماو ته وايو، ولې دمحك هغه ډېره چې دعيسی (ع) دپيغمبری دثبوت لپاره کاروئ، دتولو لپاره ونه کاروو ؟ او هغه د محك ډېره داده:

[ هماغه ډول چې ونه له مېوې پېژندل کېږي، کولی شئ دوی هم له اعمالو وپېژنئ. تاسو به يقيناً دانګور دونې او ددښتې داغزيو، دانځر دونې اوداغزيو دبوټې ترمنځ په توپيرونو پوهېږئ. ښه ونه ښه ميوه ورکوي او بې کاره ونه بې کاره مېوه ورکوي، ښه ونه بې کاره مېوه نه

ورکوي او همدارنگه بده ونه ښه مېوه نه ورکوي. او هغه ونې چې خرابه مېوه ورکوي پرې کېږي او په اورکې سوځول کېږي, نوهمدغه شان دروغجن پیغمبران له اعمالو پېژندل کېږي ] [۳۶]

ولې له دې وېره لرئ چې دا دمحك ډېره دمحمد(ص) دتعالیمو په اړه تطبیق کړئ ؟

تاسو دموسی (ع) اوعیسی (ع) تعالیم په صحیح ډول وګورئ نودپروردګار دوروستي عهد (قرانکریم ) په اړه به پوه شئ چې نړیوالوته یې داړتیا په اندازه سوله او ارامي راوستله.

(( که داوسنی پرمختللې نړی واك او مشري دمحمد(ص) پشان یو څوك په لاس کې واخلي, نو هغه به وتوانېږي چې دنړی ستونزې ختمې کړي او نړی او نړیوالوته به دهغوئ داړتیا په اندازه سوله او نېکمرغي چې اوس هغوئ ته مطلوب او اړینه ده راوړي. )) دجورج برناردشاو وینا

## دانسانیت په تاریخ کې لوی شخصیت !

دټایمز اوونیزې د ۱۹۱۴ کال دجولای پر ۱۵ مه نېټه ددې پوښتنې چې (( دتاریخ لوی شخصیت څوك دی ؟ )) دځواب لپاره له تاریخپوهانو, پوځیانو, سوداګرو او نورو لویو خلکو نظرونه راټول کړل چې ځینو یې دهټلر, ګاندهي, بودا, ابراهام لنکلن اونورو په اړه نظریات ورکړي و خو جولیس مسرمن ( Jules Masserman ) چې دامریکا لوی څېړونکی او ارواپوه دی , ددغه قضاوت لپاره یو معیار

[۳۶] متی انجیل ۷: ۱۲-۲۰



دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !

وټاکه او ویې ویل: (( دنړی لارښودان باید په لاندې درېو برخوکې لاسته راوړنې ولري ترڅو موږ هغوئ په لویو اشخاصو کې وشمېرو:

۱- باید دخپلو اتباعو دپرمختګ او هوساینې لپاره لاسته راوړنې ولري.

۲- ټولنیز نظم یې بایدمنځته راوړی وي چې خلك یې ترسیوري لاندې په اطمنان او امن سره ژوند کوي, او

۳- خلکوته یې دعقایدو (عقیدو ) یوه ټولګه راوړې وي. ))

هغه دپورتنیو درېو معیارونو په نظر کې نیولو سره تاریخ داسې وڅېړه چې هټلر, پاستور, قیصر, موسی, کانفیوش او نور... یې مطالعه کړل او په پای کې دې پایلې ته ورسېد چې:

(( دپاستور او سالك پشان خلك بې له شکه چې رهبران دي, اودګاندهی او کانفیوش پشان خلك له یوې خوا او الکساندر, قیصر او هټلر له بلې خوا د دویم لاس او حتا د درېم لاس رهبران دي, عیسی او بودا یوازې د درېیمې ډلې پورې تړاو لري. کېدی شي چې ترټولو لوی رهبر د انسانیت په تاریخ کې محمد(ص) وي ځکه چې هغه په پورتنیو دري واړو معیارونو برابردی او له هغه نه په یوه درجه کمه کې بیا موسی (ع) دغه صفات لري. ))

دشیکاګو دپوهنتون ددغه پروفیسور چې زما په اند هغه یو یهودي دی دمعیارونو له مخې عیسی (ع) او بودا کاملاً ( په پوره ډول ) دانسانیت دلویو رهبرانو له لړ نه اوزي ولې عجیبه پېښه ده چې محمد(ص) او موسی (ع) دواړه یودبل په څنګ کې یادشوي دي چې دا پخپله د مخکیني استدلال چې (( عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی خو محمد(ص) دموسی (ع) پشان دی )) وزن لا زیاتوي:

((... ستا (موسی ) پشان یو پیغمبر )) [37]

اسقف ( دعیسوي یا یهودي مذهب عالم ) جیمز اِل داو [38] دسپېڅلي کتاب دکولن په ډکشنري (قاموس ) کې نور دلایل چې عیسی (ع) دموسی (ع) پشان نه دی او محمد(ص) دموسی (ع) پشان دی, وړاندې کوي:

(( موسی (ع) دیو حاکم او اداره کوونکی په توګه دبنی اسرائیلو دملت بنسټګر دی, هغه دسامي ازادو ټولنو موسس دی... یوازینی کس چې دتاریخ په اوږدو کې له هغه سره یې پرتله کولی شو, محمدصلی الله علیه وسلم دی. ))

په پای کې دسپېڅلي کتاب دشرح کوونکي, مسیحی عالم او اسقف, او حضرت عیسی (ع) پر وینا وو دغه بحث پایته رسوو:

(( مهمې لاسته راوړنې دیو ربنتوني پیغمبر, اخلاقي ارزښتونه دي چې دتعالیمو په جریان کې په هغه کې ترسترګو کېږي. )) ( پروفیسور دومیلو )

[... هغوئ کولی شئ له کړنو (اعمالو ) یې وپېژنئ. ] حضرت عیسی علیه السلام.

## راځئ په خپلو کې استدلال وکړو !

قرانکریم فرمایي: قل یا اهل الکتب تعالوا الی کلمۀ سواءٍ بیننا وبینکم الا نعبد الا الله ولانشرك به شیئا ولا یتخذ بعضنا بعضاً ارباباً من دون الله فان تولوا فقولواشهدوا بانا مسلمون ٥ ال عمران: ۶۴ ایت

[37] دتثنیې سفر ۱۸: ۱۸

[38] Rey James L. Dow





ژباړه: ووایه ( ای محمده ) چې, ای اهل کتابو! راځئ دیوې کلمې په لور چې زموږ اوستاسو ترمنځ برابره ( شریکه ) ده ( او هغه دا ) چې پرته له الله (ج) نه دبل چا عبادت به نه کوو او نه به له هغه سره څه شی شریکوو ( په ذات اوصفاتو کې ) او نه به نیسي ځیني له موږ ځیني نور په خدایي سره, نو که وګرځېدل دوئ ( له توحیده ) نو ووایاست ( ای مومنانو ) چې شاهدان شئ تاسې ( اهل کتاب ) چې موږ مسلمانان یو.

((اهل کتاب )) یو ښاغلی لقب دی چې په قرانکریم کې یهودو او عیسویانو ته ورکړل شوی. په دې مبارك ایت کې مسلمانانو ته امر شوی دی چې دوئ ته بلنه ورکړې په – ای اهل کتابو – ای پوهه او اګاه خلکو – ای هغو خلکو چې دعوه کوئ چې تاسوته اسماني کتاب راغلی دی, راشئ چې په یو شریك محور سره راټول شو چې پرته له الله (ج) به دبل چا عبادت نه کوو, ځکه پرته له الله (ج) نه بل څوك دعبادت اجر ورکوونکی نشته. نه د دې لپاره چې:

[ دهغوئ په مخکې مه ټیټېږه او هغوئ مه لمانځه, ځکه زه چې خدای یم, ستاخدای یم, غیرتي خدای یم او څوك چې له ماسره دوښمني کوي سزا ورکوم او دا سزا دهغوئ د اولادونو تردرېیم او څلورم نسل پورې ورکول کېږي ] [39] بلکه ددې لپاره چې هغه زموږ خالق, رازق, پروردګار او پالونکی دی نو ځکه هغه دهرډول عبادت, لمانځنې, ثنا او ستاینې اجر ورکوونکی دی.

یهودان اومسیحیان, یاد شوي درې وړاندیزونه دتیوری, په شکل مني ولې په عمل کې هغوئ ناکام دي پرته له دې چې دوحدانیت په

[39] دخروج سفر ۲۰: ۵

اړه عقیدوي انحرافات لري, دروحانیت داعتلا [40] ( Consecrated Priesthood ) مسئله په دې ماناچې یوانسان دکاهن, پاپ, پادري یا برهمن په لباس سره کولی شي چې پرته له دې چې پوهه, روحي پاکوالی اود ژوندون سپېڅلتیا په نظر کې ونیول شي, پرنورو دبرترۍ ( لوړوالی ) دعوه وکړي, چې اسلام دغه عمل ددین دخلکو لپاره په رسمیت نه پېژني.

اسلامي عقیده موږ ته په منظم ډول یوبل پسې بیان شوې ده:

قولوا امنا باالله وما انزل الینا وما انزل الی ابراهیم واسمعیل واسحق ویعقوب والاسباطِ وما اوتیَ موسی وعیسی ومآ اوتیَ النبیون من ربهم لانفرق بین احد منهم و نحن له مسلمون o البقرۍ ۱۳۶ ایت

ژباړه: ووایاست چې ایمان موراوړی په الله (ج) او پر موږ نازل شوي (قرآن ) او پر هغه څه چې پر ابراهیم, اسماعیل, اسحاق,یعقوب علیهماالسلام او دهغوئ پر اولادې نازل شوي دي او هغه څه چې موسی او عیسی ته راغلي دي او هغه چې نورو پیغمبرانو ته دخدای (ج) له لوري راغلي دي (ایمان پرې لرو ) او دهغوئ ترمنځ توپیرنکوو اوموږ مسلمانان یو.

دمسلمان موقف ښکاره دی. مسلمان دا دعوه نکوي چې دین یوازې دده دی, اسلام نه فرقه ده اونه کوم توکمیز دین. دمسلمان له انده ټول اسماني دینونه دیوې موخې لپاره دي اوټول اسماني دینونه

[40] دیهودو په عقیده دغه اعتلا او ځان لوړ شمېرل د ( رجال دین ) لپاره میراثي عمل دی.



**دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت په اړه دتورات او انجیل وړاندوینې !**

په حقیقت کې یودي, ځکه حق یو دی او دا ( اسلام ) هماغه دین دی چې دمخکینیو پیغمبرانو پوسیله تبلیغ شوی دی.

په سورۍ الشوری, دیارلسم ایت کې الله تعالی (ج) فرمایي:

ژباړه: خدای (ج) تاسو ( مومنانو ) ته یو داسې قانون بیان کړی ( رالیږلی دی ) چې دهغه توصیه (وصیت ) یې نوح علیه السلام ته هم کړې وه, اوما (الله (ج) ) هغه پرتا نازل او ابراهیم, موسی او عیسی علیهما السلام ته مومې هغه (قانون ) سپارښتنه کړې ده.

( هغوئ ټولو ته مې سپارښتنه کړې ده چې اصول د ) دین پرځای کړي او په هغه کې توپیر ونکړي او اختلاف نه ځان وساتي...

داهماغه دین دی چې ټولو اسماني کتابونو یې تصدیق کړی او تدریس کړی یې دی.

له اره (په اصل کې ) نوموړې عقیده دتدبیر، او دالله (ج) ارادې پوهېدنې او پوره غاړه ایښودنې او تسلیمي دالله (ج) ارادې ته دپوهونې کوښښ کوی.

نوکه هر څوك داسلام له مقدس دین نه سرغړوي یانې بل دین اختیاروي, په حقیقت کې هغه له خپل فطرت سره هم مخالف دی او دالله (ج) دارادې او تدبیر سره هم جوړ نه دی, له داسې کس نه دهدایت تمه نشي کېدی, ځکه چې هغه پخپله هدایت رد کړی دی.

**پای**

دا کتاب له اصلاح انلاین څه ډاونلوډ شوی دی